# د ښځو آزادي یوازې
# د دموکراسۍ پر بنسټ ولاړ سکیولاریزم
# په منځ ته راتللو ترلاسه کیدای شي او بس!

افغانستان په تیرو ۲۵ کالو کې لومړی د روسي ښکیلاک ګرو او د هغوي د پرچمي او خلقي ځنځیري سپیو تر پښو لاندې وځپل شو او د ګوډاګي دولت تر راپرځیدلو وروسته په ۱۳۷۱ کې، د وینو او خیانت تنظیمي امارت، زمونږ د ولس پر روح او بدن بانلې د ناسور داغونه کیښودل. او وروسته له څلورو کالو چې بنسټپال تبهکاران د خپل د ډاره ډک زورزیاتي په یو لاس کولو و نه توانیدل، بهرنیو اربابانو یې خپل ذخیره ځواک، طالبان رامنځ ته کړل چې د دغې سیمې په نر او ښځې باندې د لیوني ډوله خروړیتوب له امله نه یوازې د افغانستان، چې د نړۍ په تاریخ کې شرموونکی داغ وشمیرل شو. سربیره پر دې چې طالبي ځناورو پر افغانستان بانلې د هډیرې په څیر د چوپتیا تغر خپور کړ خو کله چې یې د القاعدې په ملاتړ د خپلو امریکایي جوړوونکو په وړ انلې یاغیتوب وښود، د سپتمبر یوولسمې نیټې تر پېښې وروسته یې منځنی پیړۍ ایز امارت د ښکۍ په شان راوغورځیده؛ لاکن د هغوي پوځي ځواک ډیر زیان و نه لید، خو د دې پر ځای زمونږ د ۳۰۰۰ بې ګناه هیوادوالو وینې پر ځمکې وبهیدلې. د طالبانو د ړنګیدلو وروسته سیاسي واکمني د امریکا او متحدانو له خوا د "شمال ټلوالې" تبهکارانو ته وسپارل شوه چې په کراتو د ښځو ضد، د بشر د حقونو ضد، وینې تویوونکي دي او د بې ۵۲ تر سیوري لاندې د دې سیمې فاتحان ونومول شول.

د "شمال ټلوالې" په ۱۳۷۱ – ۱۳۷۵ کلونو کې خپله ازموینه ورکړې وه. د هغوي په اړه همدومره بس دی وویل شي چې د افغانستان د تاریخ تر ټولو توري دورې کې د دوي قساوت او رذالت دومره زیات و چې زمونږ خلکو د روسي ښکیلاک ګرو او د هغوي د سیمه ایزو نوکرانو بمباري او ټول وژني او خونړی اختناق هیر کړ. له دې امله د حیرانتیا خبره نه ده چې د لنډمهالي او انتقالي دولت له جوړښت او د جمهوري ریاست د ټاکنو سره سره بیا هم ثبات، امنیت او د هیواد د اقتصادي بیا رغونې نښه نه ښکاري، ځکه چې سپي د کله پڼ پر ځای کښیناستلي دي، ځکه چې د "شمالي ټلوالې" باندونه د جنایتونو سر ته رسولو او د هیروئینو له سوداګرۍ پرته ژوندي پاتې کیدلای نشي.

د روان ویجاړ وضعیت دوام موندل او په افغانستان کې د "شمالي ټلوالې" له تروریستانو څخه د لویدیځ ملاتړ د دې خبرې پخلی کوي چې امریکا او متحدان یې د بشر د حقونو ارزښتونو او د ښځو حقونو ته پاملرنه نه کوي او یوازې خپلې سیاسي او اقتصادي ګټې په پام کې نیسي.

زمونږ خلکو او په تیره بیا ښځو د جمهوري ریاست د ټول ټاکنو په لړ کې د بنسټپالو د ګواښ سربیره په خپل پراخ ګډون او زړورتیا په حیرانوونکي ډول د جنګسالارانو څخه خپله بې پایه کرکه او له آزادۍ او دموکراسۍ سره خپله مینه وښودله.

زمونږ ښځو او نارینه دومره وخت وموند چې کرزي ته په رایې ورکولو سره په واقعیت کې د خپلو بچیانو وژونکو، په اویا کلنو میندو او اوه کلنو لوڼو تیري کوونکو، د هیواد ورانوونکو، د ملي پانګو او تاریخي آثارو لوټوونکو او د هیروئین مذهبي مافیا باندې لاړې تو کړي.

خو له بده مرغه ښاغلي کرزي د خلکو اعتماد تر پښو لاندې کړ او د هغوي د رایو درښښت یې و نه کړ. پر سیاف، رباني، خلیلي، اسماعیل، ډاکترعبدالله، دوستم او نورو جنګسالارانو باندې ډډه لګولو او کابینې کې د څو ښکاره بنسټپالو ښځو په نصب کولو سره یې د خلکو په رایو ملنډې ووهلې او د ټاکنو په وخت کې، د خپلو ژمنو پر خلاف یې ائتلافي او مصلحتي دولت جوړ کړ. د "شمالي ټلوالې" جنایتکارانو باندې د ښاغلي کرزي د لورینې له امله د ډاکتر عبدالرحمن او محصلانو وژونکي، د حیدري وژونکی (لوچک جیحون)، هغه ناولو بې ناموسانو چې د تنکۍ پیغلې رحیمې پر عفت یې تیری وکړ او دغه ډول په سلګونو نور بدذاتان د "شمالي ټلوالې" د ملاتړ په سیوري کې په آرام فکر او کبر او دبدبې د کابل او نورو ولایتونو په سړکونو کې چکرې وهي.

په دې وروستیو ورځو کې لا له ګلبدیني او طالبي خاینانو سره د حکومت د رسمي او ډاګیزې جوړجاړي آوازې هم خپرې شوي دي. که ښاغلی کرزی فکر کوي چې زمونږ د خلکو له ډیرو ناولو دښمنانو سره دغه شان معاملې د په اصطلاح ملي وحدت او دغه شان نورو شیانو په جامو کې راونغاړي، ډیره کلکه تیروتنه کوي. د ملي وحدت تامینول یوازې او یوازې له دغو فاشیستو بنسټپالانو څخه په لیرې

ساتلو کې تر لاسه کیدای شي. هغه وحدت چې د خلکو په وینو لړلي لاسونه پکښې ونډه ولري، ملي وحدت نه بلکې خاینانه او دقیقا ملي ضد وحدت به وي.

که بنسټپالان د هغو بې شمیره خیانتونو او جنایتونو له امله چې سرته یې رسولي دي د محاکمې میز ته و نه کاږل شي، د هغوي توپ او ټوپکونه راټول نشي او په تیره بیا هغه بلیونونه ډالر یې چې وهلي دي، ور څخه وا نه خیستل شي په اصل کې هیڅ کار هم تر سره شوی نه دی او دغه تبهکاران به وتوانیږي چې د خپلو بې شمیرو پیسو په زور د پارلماني ټاکنو په ترڅ کې په هر ډول رذالت، ترور، توطئې او تقلب لاس پورې کړي. پارلماني ټاکنې په داسې هیواد کې چې د "شمالي ټلوالې" د مافیا په منګولو کې بند دی، سراب او د خندا ډکه لوبه ده او د خلکو پر ژوند او د هغوي د پخوانیو ټپونو په جوړولو به هیڅ اغیز و نه لري او جنګسالاران به، چې لاهم په ډیرې بې شرمۍ ځان "رهبران او جهادي قومندانان" بولي، د پخوا په شان د مراد پر خره سپاره پاتې شي.

په دې وروستیو کې "د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون" د ثور له کودتا څخه نیولې د طالبانو تر درې ورې کیدو پورې د جنګي جرایمو او د بشر پر حقونو تیري کوونکو جرمونو څخه ډک سند خپور کړی دی. که دغه سند له غرض او مرض څخه پاک او د خلکو د حق غوښتونکو او زړه دردوونکو چیغو پر بنسټ جوړ شوی وای باید ټول جنایتکاران یې د هغوي د قربانیانو له ژبې معرفي کړی وای. خو په دغه مصلحتي او بې لکۍ سند کې د یوه فسادسالار او جنایتکار نوم هم اخیستل شوی نه دی. مونږ په غوڅه توګه په دې باور یو چې که جنایتکاره خاینان پرته له ځنډه تعقیب او سزا ته ونه رسیږي، او د هغوي نومونه د هیواد هوایي ډګرونو او بندرونو ته د ممنوع الخروج په توګه اعلام نشي، د دغه سند خپرول به له تیرایستنې او د خلکو په سترګو کې له خاورو شیندلو پرته بله مانا و نه لري. زمونږ د خلکو غوڅ اکثریت چې پ ه تیرو ۲۵ کلونو کې یې ډیر کړاونه او ځوریدنې زغملي دي، د خلق او پرچم او د جهادي بنسټپالو او طالبانو د باندونو د رهبرانو او مسوولانو له محاکمې او اشدو مجازاتو څخه پرته په بل څیز نه قانع کیږي.

"د افغانستان د ښځو انقلابي جمعیت" په کراتو په ډاګه کړې ده چې د خلق او پرچم، "شمالي ټلوالې" او د طالبانو رهبران د هغو جنایتونو او ملي پانګو د لوټلو له امله چې تر سره کړي یې دي، یوازې په نړیوالو محکمو کې د جنګي جنایتکارانو تر څنګ د کښیناستلو وړ دي او نه هم هیڅکله په افغانستان کې د وزارت، سفارت او ریاست پر چوکیو باندې د خیتې اچولو.

مونږ د دې تر څنګ چې د ښځو نړیواله ورځ د افغانستان او نورو هیوادونو ځوریدلو او آزادي غوښتونکو ښځو ته مبارکي وایو، په دې باور یاستو چې زمونږ د غم لړلي هیواد د ښځو او نارینه له پاره تر ټولو نیکمرغه ورځ د سکیولاریزم پر بنسټ د دموکراسی رامنځ ته کیدلو ورځ یعنې له دین څخه د بنسټپالو د ناوړه ګټې اخیستنې د لاس لنډیدلو ورځ ده. او یوازې په هغه وخت کې به د ښځو د نړیوالې ورځې لمانځل واقعي او له برمه ډکه مانا تر لاسه کړي. مونږ ټولو هغو کسانو ته په کلکه لاس ورکوو چې هغې ورځ ته د رسیدلو او "په خپلو وینو او هډوکو" د خپل ګران هیواد د جوړولو له پاره د هر ډول بنسټپالو باندونو او د هغوي د ولینعمتانو پر ضد د غوڅې مبارزې په ترڅ کې، ویرې او زړه نازړه کیدلو او محافظه کارۍ ته لار نه ورکوي.

# د افغانستان د ښځو انقلابي جمعیت (راوا)

د ۱۳۸۳ د کب ۲۰ (د ۲۰۰۵ د مارچ ۱۰ )
کابل

پته: RAWA, P.O.Box 374, Quetta, Pakistan
موبایل: ۰۰۹۲-۳۰۰-۵۵۴۱۲۵۸
په اینترنت کی د "راوا" پانه: www.rawa.org
الکترونيك پست: rawa@rawa.org